# ملايکې هغه کور ته نه ننوځي چې سپی یا انځور پکې وي

له ابو طلحة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «ملایکې هغه کور ته نه ننوځي چې سپی یا انځور پکې وي».
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې هغه کور ته د رحمت ملایکې نه ننوځي چې سپی او د ساه لرونکو انځور پکې وي؛ ځکه چې د ساه لرونکو انځورول ګناه او ناوړه عمل دی، او پدې کې د الله تعالی د مخلوقاتو سره ورته والی او د شرک یوه وسیله ده، او ځینې یې د هغه څه انځور دی چې له الله تعالی پرته یې عبادت کیږي، او له هغه کور څخه یې منع فرمایل چې سپی پکې وي، ځکه چې (سپی) ډېر نجاستونه خوري، او ځینو ته یې شیطان ویل شوی؛ او ملایکې د شیطانانو ضد دي. او ځکه چې سپی بد بوی لري؛ او ملایکې بد بوی نه خوښوي، او بل دا چې له ساتلو یې منع راغلې؛ نو په ساتلو سره د رحمت د ملاېکو له راننوتلو، په کور کې یې د ملاېکو لخوا لمونځ کولو، د ده لپاره د بخښنې غوښتلو، د کور برکتي کولو او د شیطانانو د ضررونو له دفع کولو څخه محروم شو.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/8950